د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعات آمريت

شلمه گڼه (وږي) ۱۴۰۳ : شماره بیست (سنبله) ۱۴۰۳ لومړی مخ - صفحه اول

اونیزه راستنیدنه عودت هفته نامه



ما دا تحریک د توکل محض پر اساس پیل کړ،فقط توکل محض.له دې څخه زما اصلي هدف په افغانستان کې د اسلامي شریعت تنفیذ او د جهاد د شهیدانو د آرمانونو پوره کول دي.
أميرالمؤمنين ملا هبة الله حفظه الله

# د فرمانونو او حکمونو د نظارت عمومي رياست د ښونې او روزنې او لوړو زده کړو چارو د څار رييس د مهاجرينو چارو وزير سره وليدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د هېواد د فرمانونو او حکمونو د نظارت عمومي رياست د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو چارو د برخې د څار رييس شيخ نورالله نوري او مل پلاوي سره د خپل کار په دفتر کې وليدل.

ښاغلي نوري د دې اداري موخې بيان کړې او د چارو د ښه تطبيق په برخه کې يې د لارښوونو، او مشورو ورکولو غوښتنه وکړه.

ښاغلي حقاني د اسلامي نظام تاسيس د څلورو لسيزو نه سترې کيدونکو هلو ځلو پايله وبلله او ويې ويل: زموږ هدف د اسلامي احکامو پلي کول دي.

هغه په اطاعت او لازياتي همغږۍ ټينگار وکړ او زياته يې کړه: فرمانونه او حکمونه بايد په ښه توگه پلي شي او له کارکوونکو سره بايد ښه چلند وشي.



دغه راز د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير نوموړي ته د همکارۍ ډاډ ورکړ.

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با رییسه سازمان بین المللی مهاجرت دیدار تودیعی کرد

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با خانم ماریا مویتا رییسه سازمان بین المللی مهاجرت دیدار تودیعی کرد.

آقای راشد به نماینده گی از این وزارت از کارکرد خانم مویتا درافغانستان قدردانی کرده گفت: همکاری و کمک های شما با بیجاشده گان و برگشت کننده گان درکشورقابل ستایش است

معین مسلکی وزارت افزود: شما با فعالیت و کار تان در افغانستان تصویر حقیقی این کشور را به کشور های جهان نشان دادید تا مردم ازحقایق آگاه شوند، همکاری این وزارت با سازمان بین المللی مهاجرت همیشه دوامدار خواهد بود.

وی دراجرای ماموریت های بعدی برای او اظهار موفقیت کرد.

خانم ماریا مویتا رییسه سازمان بین المللی مهاجرت دوره کاری اش را در افغانستان پر خاطره خواند و از همکاری مقام رهبری وزارت اظهار سپاس کرده گفت: از شما و همکاری همیشگی این وزارت و نهاد های ذیربط خوشحال هستم، کارهای که در این اواخر از جانب این وزارت در قبال برگشت کننده گان صورت گرفته فوق العاده عالی بوده و قابل قدر است.

وی افزود: سازمان بین المللی مهاجرت به همکاری متداوم خویش با وزارت امور مهاجرین همکارخواهد بو د.



## د دايکندي د مهاجرينو چارو آمر د مهاجرينو چارو وزير سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د دايکندي ولايت د مهاجرينو چارو آمر مولوي محب الله اخوندزاده سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې په دغه ولايت کې د مهاجرينو لپاره د اسانتياوو د رامنځته کولو او ستونزو په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي اخوندزاده د وزارت له سرپرست وزير حقاني سره د دې اداري د فعاليتونو او د چارو د ښه والي لپاره ستونزې شريکې کړې او ورته د رسېدنې غوښتنه يې وکړه.

د مهاجرينو چارو وزير د دايکندي د مهاجرينو چارو آمر ته د دغو ستونزو ته د رسېدنې ډاډ ورکړ





اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عـودت

د اسد ۲۴مه د پرځیدلي ملت د عزت او جلال ورځ د فتحې ورځ

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، به ولایت ننگرهار سفر کرد

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان همراه با اعضای کمیته اسکان موقت کمیسیون عالی رسیده گی به حل مشکلات مهاجرین به تورخم ولایت ننگرهار سفر کرد.

هدف از این سفر معین مسلکی وزارت به آن ولایت بازدید از کمپ های عمری و لعل پور در تورخم که برگشت کننده گان اجباری کشور پاکستان در آن طور موقتی مسکن گزین میشوند میباشد.

آقای راشد در دیدار با مسوولان در کمپ های متذکره بر شفافیت در مساعدت و تسهیل خدمات برای برگشت کنندگان تاکید کرد.

## شماری ازدوکتوران یک مرکز صحی با معین مسلکی وزارت امورمهاجرین دیدارکردند

شماری از دوکتوران مرکز صحی صوفیا درکابل با الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان دیدارکردند.

دراین دیدار آنان از بلند بردن کیفیت خدمات صحی صحبت نمودند و محترم راشد برتقویت سیستم صحی، معیاری سازی و بهبود خدمات صحی تاکید ورزید.



## په مهاجرینو وزارت کې د چین هېواد د مرستو د دویمې جوپې بیا کتنې په اړه ناسته وشوه.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلان او پالیسۍ رییس مولوي محمود الحق احدي په مشرۍ د چین هېواد د مرستو د دویمې جوپې پلان جوړونې او بیا کتنې په اړه ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د چین سفارت د اقتصادي او سوداګرۍ سلاکار ماچنګوانګ او د یاد سفارت د اقتصادي او سوداګریزي برخې دریم سکرتر، د اتشه وو رییس، د مهاجرینو چارو همغږۍ کوونکي، مالي او اداري او په مهاجرینو وزارت کې د موسساتو همغږي کوونکو رییسانو ګډون درلود.

ښاغلي احدي د چین هېواد څخه د ۴۰ میلیونه چیني ینو په ارزښت د لومړۍ جوپې څخه د مننې تر څنګ وویل: چې یادي مرستې مستحقو او اړمنو کسانو ته د لومړنیو اړتیاوو پوره کولو په موخه ویشل شوي دي.

نوموړي زیاته کړه: چې چین هېواد سره یې د مرستو په برخه کې ښه همغږي لرلې او په پام کې لري چې د مرستو دویمه محموله کې هم اړمن کسان په نظر کې ونیسي.

په پام کې ده، چې په نږدې راتلونکې کې د ۶۰ میلیونه چیني ینو په ارزښت د مرستو دویمه جوپه د یاد وزارت په واک کې ورکړل شي.



## نشست مشترک وزارت امور مهاجرین با نهاد های همکار بین‌المللی برگزار شد

نشست مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان پیرامون انتقال بیجاشده گان به محلات اصلی شان با حضور نماینده های نهاد های همکار بین‌المللی برگزار شد.

دراین نشست نماینده های کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، برنامه اسکان بشری سازمان ملل و اداره هماهنگ کننده کمکهای بشری سازمان ملل متحد حضور داشتند.

مولوی سردارشیرزاد رئیس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی گفت، خواست امارت اسلامی این است که خانواده های بیجاشده را به محلات اصلی شان برگردانیم و به این مشکل نکته‌ای پایان دهیم، فعلا پنج هزار خانواده در شهر کابل آماده انتقال است.

شیرزاد گفت، هر همکاری مطابق به اصول و پالیسی امارت اسلامی باشد با شما همکار هستیم تا این پروسه به زودی آغاز گردد.

آقای ونست مسوول هماهنگی کمپ ها گفت، در هماهنگی با موسسات همکار برعملکرد مشترک کار می‌کنیم تا به یک نتیجه مثبت برسیم.

وی افزود، با هماهنگی وزارت و کمیته راه حل دائمی کار می‌کنیم تا مشکلات بیجاشده ها مرفوع گردد.

ونست گفت، برای مشخص ساختن مشکلات به ولایات سفر صورت گیرد و پنج هزار خانواده که آماده انتقال میباشد باید به دو گروپ تقسیم گردد و بر انتقال آنان گام های عملی برداشته شود.



## د مهاجرینو وزارت ۱۳ کارکوونکي د کمپیوټر له زده کړو فارغ شول

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ۱۳ تنه کارکوونکي د کمپیوټر له ۲ میاشتنۍ زده کړو وروسته د فراغت سندونه تر لاسه کړل.

د زده کړو دغه برنامه د مهاجرینو وزارت د بشري سرچینو ریاست د ظرفیت لوړونې امریت له لوري په لاره اچول شوې وه.

دغو مراسمو په تړاو جوړه شوي غونډه ته د یاد وزارت مالي او اداري معین شیخ کلیم الرحمن فاني په خبرو کې وویل: نن چې کوم کسان د نظام او ټولنې خدمت لپاره وړاندې کیږي، اسلامي امارت مجاهدینو د کفارو پر وړاندې د ۲۰ کلنې مبارزې پایله ده.

نوموړي زیاته کړه، لکه څرنګه چې په تېرو دوو لسیزو کې مو بهرنیانو ته خپل زور ښودلی اوس په علمي او تجربوي سویه ډګر ته راوځو، هم د جهاد په ډګر کې او هم د سیاست په میدان کې بریالي وو او د الله ج په قوت سره به د مدیریت په ډګر کې هم بریالي کیږو.

د غونډې په پای کې د مالي او اداري معین، د نظارت او ارزیابۍ او بشري سرچینو رییسانو له لوري یاد شمېر فارغانو ته د فراغت سندونه وویشل شول.



اونیز راستنیدنه عـــــودت هفته نامه



## د اسد ۲۴مه پر باطل باندې د حق د بریا ورځ

## اسلام اباد کې د مهاجرینو اتشه هلته د مهاجرت نړیوال سازمان له رییسې سره وکتل

د پاکستان په اسلام اباد کې د مېشتو افغان مهاجرینو اتشې د راپور له مخې، د افغان مهاجرینو اتشه اصف خان ځدراڼ د زمري پر یودیرشمه په پاکستان کې د مهاجرت نړیوال سازمان له رییسې میرمن مایو سیتو او د AAC کارتونو پروژې مسول راشد شهریار سره وکتل.

مېرمن مایو سیتو د افغانستان سفارت او د افغان مهاجرینو چارو اداري د مسولینو له همکارۍ مننه وکړه او وې ویل: دا اداره اوس مهال د کوربه هېواد او د اسلامي امارت د جگړوړو چارواکو په همکارۍ د افغان مهاجرینو د اقتصادي ثبات او د مهاجرت د مدیریت لپاره د بشري مرستو نوښتونه ترسره کوي.

د مهاجرینو اتشه د مهاجرت نړیوال سازمان د فعالیتونو په ځانگړې ډول د مهاجرینو د بې وزلۍ او محرومیت د کمولو او د هغوی د غوښتنو د حل په برخه کې د اسلامي امارت د سفارت او د مهاجرت نړیوال سازمان او د مهاجرینو چارو اتشې ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا غوښتونکی شو او د مهاجرینو ننگونې یې هم بیان کړې.

اغلې مایو سیتو د نغدي مرستو د وېش د بهیر په اړه معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، چې د دې پروگرام موخه د هغو مهاجرینو پیاوړتیا او ملاتړ دی چې د ACC کارت لري چې اوس مهال یې ازموینه روانه ده او ډېر ژر به دا پروسه د ټولو کارت لرونکو لپاره تطبیق شي.

هغې ژمنه وکړه چې د ACC۲ پروژې د پیل او د ACC کارت د سمون او تعدیل په اړه به د پاکستان له باصلاحیته چارواکو سره خبرې وکړي.

د مهاجرینو اتشه له میرمن مایو سیتو څخه غوښتنه څرگنده کړه، چې د افغان مهاجرینو غوښتنو او ستونزو ته پر وخت د رسېدنې لپاره د افغانستان سفارت او IOM، CCAR ادارو ترمنځ د همغږۍ ډیسک جوړ کړي چې د مېرمن مایو سیتو له لوري یې هرکلی وشو، هغې ژمنه وکړه چې په نږدې راتلونکي کې به د

همغږۍ د یو گروپ د رامنځته کولو لپاره په گډه کار وکړو.

## برای ده ها تن فارغان دوره آموزش های حرفوی در ولایت غور کمک شد

برای ٦٠ تن فارغان دوره آموزش های حرفوی در ولایت غور و سایل کار توزیع شد.
افراد یاد شده قبلاً مدت ٦ ماه در بخش خیاطی آموزش های فنی را ا زجانب موسسه رازی فرا گرفته بودند.
برای هر یک از فارغان دوره آموزشی یاد شده ٨ قلم وسایل خیاطی کمک موسسه مذکور توزیع شد .




## برنامه آگاهی برای بیجاشده ها و برگشت کننده ها در ولایت غزنی برگزارشد

برنامه آگاهی دهی از فواید اسناد مدنی از طرف ریاست امور مهاجرین ولایت غزنی به همکاری موسسه وستا برای ٢٤ تن بیجاشده ها و بر گشت کننده ها در آن ولایت برگزارشد.
برنامه یادشده در مربوطات مرکز آن ولایت برگذار و در رابطه به مسایل حقوقی و فواید اخذ تذکره وسایر اسناد مدنی آگاهی لازم برای آنان ارایه گردید .



## د ښار او کور جوړونې وزارت مرستیال د غزني ولایت له مهاجرینو سره وکتل

د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، د ښار او کور جوړونې وزارت مرستیال شیخ مدبر علی بامیانی د وږي پر اومه د غزني ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو رییس مولوی مطیع الله عرب سره وکتل.

په دې کتنه کې د غزني ولایت د ۲ نمبر مهاجرینو د ښارگوټي د جغرافیایي موقعیت، د لومړۍ برخې د توپوگرافیکي سروې د بشپړېدو او د دویمې برخې د توپوگرافیکي سروې د پیل د څرنگوالي په اړه بحث او خبرې وشوې.

د ښار او کور جوړونې وزارت مرستیال ژمنه وکړه، چې ډېر ژر به د دغه وزارت تخنیکي ټیم د توپوگرافیکي سروې په موخه غزني ولایت ته لاړ شي او د پاتې ۲ نمبر ښارگوټي د سروې چارې به بشپړې کړي.



## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د کابل ښار د پلازمینې ترمینل مېشتغالی وکاته

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د پلازمینې ترمینل مهاجرینو مېشتغالی څخه وکاته.
په دې کتنه کې د کابل ولایت د مهاجرینو چارو رییس مولوي عبدالرحمن حبیب زي او د لنډمهاله استوگنې کمیسیون غړي مولوي نصرت الله طلحه هم برخه اخیستې وه، چې د کتنې موخه یې د راستنو شویو مهاجرینو د ستونزو اوریدل او د مېشتغالي د احاطوي دیوال دبشپړېدو څارنه وه.
ښاغلي راشد له نږدې د راستنو شویو ستونزې واورېدې او د حل ژمنه یې وکړه.
دغه راز نوموړي روغتیایي سیار مرکز، چې د کابل ولایت د عامې روغتیا ریاست په مرسته راستنېدونکو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي، هم وکاته او د هغوی چارې یې وڅېړلې.

